هفته واره رساله

# سکون ورکونکي آيتونه



# ورومبے دا ولولۀ

د الله ربُّ العٰلمین پاک کلام دومره زړۀ راښکونکے او روح تازه کونکے دے چې که څوک پۀ محبت او ادب سره، پۀ زړۀ پورې انداز کښې په توجه سره د قرآنِ کریم تِلاوت کوي او د دې پۀ ترجمه باندې غور کوي نو د الله پاک پۀ رحمت سره د هغۀ د زړۀ بے حده سکون او قرار نصیب کیږي- پۀ پاک کلام کښې داسې سکون دےچې دا د دُنیا پۀ هڅ یو څیز کښې نشته، زمونږه خوږ رَب پخپله اِرشاد فرمائي: زما پۀ یاد کښې "**د زړونو سکون**" دے- پۀ دې مختصره شان رساله کښې داسې آیتونه مبارک وړاندې کړے شوي دي کوم چې د خپلو معنو او مفهوم پۀ لحاظ سره ډیر واضحه او زړۀ پورې دي- پۀ دې آیتونو مبارکو کښې خاص طور د غم زپلو زړونو د پاره تسلي ده، د نا قرارو د پاره قرار، د پریشانه خلقو د پاره سکون او د غم وهلو د پاره د راحت ذریعه ده- شرط دا دے چې د زړۀ د سکون سره د سکون پۀ ماحول کښې دا آیتونه مبارک او د دې ترجمه پۀ ذِهن او دماغو سره بیا بیا لولې او غور کوې چې الله پاک د خپلو بندګانو سره څومره محبت او د اشنایئ اِظهار کوي، د دې سره د یو شان موضوعاتو والا د آیتونو انتخاب د ډیرې مودې راسې جاري وو- د مفتي اهلِسُنَّت محمد قاسم عطاري مُدَّظله العالي د داسې قِسمه پۀ یو ویډیو کلپ لیدو ذِهن جوړ شو چې اوس دا کار راښکاره کړے شي- د الله پاک پۀ توفیق سره في الحال د یو څو آیتونو مبارکو دا رساله وړاندې کولے شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! دا لړۍ به روانه وي- الله پاک دې دا د ټول اُمت د پاره فائده

جوړه کړي او زما، زما د مور او پلار، استاذانو صاحبانو او د پير او مُرشد د بے حسابه بخښنې ذريعه دې يــې جوړه کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

طالبِ غمِ مدينه وبقيع و بے حساب مغفرت
ابو محمد طاهر عطاري مَدَني عُفِيَ عنه
(شعبه: هفته وار رساله مطالعه)
12 شعبان شريف کال 1447 هجري، 1 فروري کال 2026

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ،وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعۡدُ، فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ، بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ۔

# سُکون ورکونکي آيتونه

**دعائے عطّار:** يا کريم ربه! څوک چې دا رساله ” سکون ورکونکي آيتونه “ ولولي يا واوري د هغهٔ ژوند د سکون او د خوشحالو نه ډک کړې او هغه سره د مور او پلار او خاندانه بے حسابه جَنَّتُ الفردوس ته داخِل کړې او د خپل خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ يـې نصيب کړې۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** ” د کوم مسلمان سره چې د صدقې د پاره هيڅ نهٔ وي هغهٔ له پکار دي چې پهٔ خپله دُعا کښې دا وائي: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ عَبۡدِكَ وَ رَسُوۡلِكَ وَ صَلِّ عَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَالۡمُؤۡمِنَاتِ وَالۡمُسۡلِمِیۡنَ وَالۡمُسۡلِمَاتِ۔ دا زکوٰة (يعني صدقه) ده او مؤمِن چرې هم پهٔ نيکۍ نهٔ مړيږي د دې پورې چې جَنَّت د هغهٔ استوګنه شي۔ “ (ابنِ حبان، 130/2، حديث:900)

**د حديث شرح:** کوم کَس چې د صدقې کولو وَس نهٔ لري د هغهٔ د رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د رحمت دُعا کول (يعني درودِ پاک ليږل) د هغهٔ د پاره صَدَقه ده۔ (السراج المنير بشرح جامع الصغير، 232/2 ماخوذاً)

اے مدینے کے تاجدار سلام　　اے غریبوں کے غمگسار سلام
تیری اِک اِک ادا پہ اے پیارے　　سو دُرودیں فدا ہزار سلام

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ حافظانو باندې حيرانتيا ده

حضرت اَبُو الحَسن احمد بن ابو حَواري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير عبادت ګزار، د دُنيا نه بےرغبته بزرګ وو، هغوئي فرمائي: ما د قرآنِ کريم تِلاوت اوکړو او د هغې پۀ يو يو آيت مبارک باندې مې غور اوکړو نو زۀ ډير حيران شوم او ماد قرآنِ کريم پۀ حافظانو باندې ډير تعجب اوکړو چې هغوئي څنګه اودۀ کيږي څنګه ګرځي راګرځي او د دُنيا پۀ کارونو کښې څنګه مشغوليږي او هغوئي د الله پاک د پاک کلام تِلاوت هم کوي- هغه چې کوم تِلاوت کوي که پۀ هغې پوهيدلے، د هغې حق يې پيژندلے، د هغې نه يې خوند حاصلولے او د هغې پۀ ذريعه يې مُناجات (يعني د الله پاک پۀ دربار کښې دعاګانې) کولے نو د خوشحالئ نه به د هغوئي خوبونه تښتيدلي وے چې مونږ ته څنګه دولت راعطا کړے شو او څنګه د عمل کولو توفيق راکړے شوے دے- (حلية الاولياء، 21/10، رقم:14354)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

میرے ربّ کا کلام ہے قرآں　　واہ کیا بات پیارے قرآں کی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**اے د قرآنِ کریم عاشقانو!** اللّٰه پاک پۀ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د ټولو نه افضل کتاب "**قرآنِ کریم**" نازل کړے، دا هُغه د عظمت، برکت او د رحمت والا کتاب دے چې پۀ دې کښې د هر څيز بيان موجود دے پۀ دې پاک کلام کښې د غيبو خبرونه، د دُنيا او د اخرت د ښه کولو طريقې او د مؤمِنانو د پاره لوئې لوئې زيرې دي- اے کاش چې روزانه د قرآنِ کریم تِلاوت کول زمونږ معمول جوړ شي او زمونږ هم د دې پاک کلام حقيقي خوند نصيب شي- آمين

## 20 کرته يې تِکرار اوکړو

صحابي رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دربار کښې د سفر پۀ وخت يوه شپه تيره کړله نو نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" ولوستل، بيا رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ژړا شو د دې پورې چې زمکې له يې تشريف يوړلو، بيا يې 20 کرته "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" ولوستل، هر ځل به چې هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لوستل نو ژړل به يې د دې پورې چې زمکې له به يې تشريف وړلو بيا يې اِرشاد

وفرمائيلو: پهٔ چا باندې چې رحمان او رحيم رحم اونکړي ضرور هغه ګس پهٔ نقصان پورته کوونکو کښې دے- (اخلاق النبی للاصبهانی، ص 111، حديث: 551)

د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې دي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" د معنو د غور او فِکر کولو د پاره د دې تِکرار اوکړو ځکه چې دا د قرآنِ کريم پهٔ ټولو رازونو کښې شامله ده- (اتحاف السادة، 89/5)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صاحب د قرآن دے او هغوئي د قرآنِ کريم د ټولو رازونو نه خبر دے- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک کلام پهٔ حقيقي معنیٰ او مفهوم باندې پوهه وو، د خپل اُمت د تعليم او اِصلاح د پاره داسې قِسمه ډيرې واقعې پهٔ حديثونو مبارکو کښې بيان شوې دي-

## د قرآند خوند نه به بے اختياره ژړيدلو

د ټولو مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دے چې زما والدِ محترم حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې به کله د قرآنِ کريم تِلاوت کولو نو د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به پهٔ خپلو اوښکو باندې اِختيار نهٔ وو (يعني پهٔ سلګو سلګو به يې ژړل)-

(شعب الايمان، 493/1، حديث: 806)

# د اللّٰه پاک د کلام لذت(خوند)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا حقيقت دے چې د زړو قدر د زرګر سره وي (يعنې د سرو زرو پهٔ قدر زرګر ښه پوهيږي)، دغه شان د اللّٰه پاک پهٔ پاک کلام قرآنِ کريم کښې غور او فِکر کول د هر چا د وَس خبره نهٔ ده بلکې دا صرف علمائے کرام كَثَّرَهُمُ الله (يعنې اللّٰه پاک دې د دوئي شميره زياته کړي) کولے شي ځکه چې د هغوئي سره د غور او فِکر والا سوچ، عقل او پوهه وي، د اللّٰه پاک پهٔ فضل او کرم سره که زمونږه هم د قرآنِ کريم د تِلاوت او د دې د معنو او مفهوم حقيقي معرفت (يعنې پيژندنه) نصيب شي نو پهٔ دې پاک کلام کښې داسې خوند دے کوم چې د دُنيا پهٔ هيڅ يو څيز کښې نشته بلکې زړهٔ غواړي چې بس صرف د قرآنِ کريم تِلاوت کوي، د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ باره کښې دي چې هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د قرآنِ کريم تِلاوت دومره زيات کولو چې د قرآنِ کريم نُسخه (د زيات اِستعمال) سره شهيده شوه- (البدایه و النهایه، 307/5) حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ” که ستاسو زړونه پاک وے نو پهٔ قرآنِ کريم به چرې هم نهٔ مړيدل او زما هيڅ يوه ورځ يا شپه هم د قرآنِ مجيد د تِلاوت کولو نه بغير تيرول خوښه نهٔ ده-“ (حلیة الاولیاء، 350/7، رقم: 10813) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سُبْحٰنَ اللّٰه! کاش چې د جامع القرآن، د مسلمانانو د دریم خلیفه حضرت عثمانِ بن عفّان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په وسیله زمونږه هم د قرآنِ پاک د تِلاوت شوق او ذوق نصیب شي- کاش چې زمونږه هم د قرآنِ کریم حقیقي خوند او روحاني سکون نصیب شي-

تمہیں کو جامعِ قرآن کا حق نے دیا منصب عطا قرآں کو کر کے جمع کی اُمّت کو آسانی

(وسائلِ بخشش، ص 584)

## په غوږونو کښې به یې ګوتې ټومبلې

په روایت کښې دي چې د اللّٰه پاک خوږ نبي حضرت موسیٰ کلیم اللّٰه عَلَیْهِ السَّلَام چې به کله د اللّٰه پاک سره په کوهِ طُور کلام اوکړو او واپس به یې د خلقو خوا له تشریف راوړلو نو (د اللّٰه پاک سره د کلام د خوند په وجه به یې) د خلقو د خبرو اوریدو نه ویره محسوسوله او په خپلو غوږونو مبارکو کښې به یې ګوتې ټومبلې- (منهاج العابدین، ص 44)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام، د صحابه کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان او د اولیائے کرامو رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَیْهِم داسې بے شمیره واقعې په کتابونو کښې موجودې دي، چې هغوئي به ټوله ټوله شپه د اللّٰه پاک د کلام نه خوندونه اخستل او دې لذت کښې به یې داسې ذوق موندلو چې هغوئي ته به د اوږدو شپو د تیریدو هډو پته نۀ لګیدله-

يو طرف ته د دې پاکو هستيانو پاک حالتونه وو او بل طرف ته مونږ يو، ورومبے خو زمونږ د ګنهګارانو د قرآنِ کريم د تِلاوت سعادت ډير کم نصيب کيږي که توفيق نصيب هم شي نو زړهٔ مو وي چې زر زر د قرآنِ کريم ختم اوکړو- بيا بيا پهٔ خُله باندې قرآنِ کريم لولو خو زړهٔ د دُنيا پهٔ خيالونو او ذِهن پهٔ نوو سوچونو کښې مشغول وي- پهٔ توجه نهٔ لرلو او د زړهٔ نه د الله پاک د کلام د تلاوت نهٔ کوونکو پهٔ باره کښې يو عبرت ناک روايت ولولئ او عبرت حاصل کړئ:

## آيا ستا پهٔ نزد زما هيڅ مرتبه نشته؟

حضرت شيخ ابو طالب مکي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما پهٔ تورات کښې د الله پاک دا فرمان ولوستلو، الله پاک بنده ته اِرشاد فرمائي: " اے زما بنده! آيا تا له زما نه حيا نهٔ درځي؟ که تهٔ پيدل روان يې او تا ته د يو دوست يا ورور خط راشي نو تهٔ د هغې د لوستلو د پاره د لارې نه اخوا کښيني، بيا د هغې يو يو ټکے پهٔ غور لولې چې چرته پکښې څهٔ څيز پاتې نهٔ شي او دا زما کتاب دے، ما دا ستا طرف ته نازل کړے دے، لږ خو وګوره چې ما پهٔ دې کتاب کښې تا ته څومره حکمونه عطا کړي دي او هغه مې بيا بيا ذِکر کړي دي چې تهٔ پهٔ هغې کښې غور او فِکر اوکړې؟ بيا هم تا مخ اړولے دے- آيا زما حيثيت ستا پهٔ نزد د خپلو ځغه ورونو نه هم کم دے؟ اے زما بنده! کله چې ستا څوک ورور ستا پهٔ خوا کښې کښيني نو تهٔ د هغهٔ طرف ته پوره توجه کوې او د هغهٔ

خبره د زړهٔ نه اورې چې که يو کَس ستا سره خبرې کوي يا پهٔ بل يو څيز کښې د مشغولولو کوشش کوي نو تهٔ هغه پهٔ اِشاره باندې چپ کوې او دلته زهٔ تا ته د رحمت نظر کووم او تا ته خطاب کووم خو تهٔ يــې چې زما نه دې مخ اړولے دے، بس تا زهٔ د خپل ورور نه هم د کمې مرتبې والا ګڼلے يم- (قوت القلوب، 109/1)

## مبارک کتاب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم تِلاوت پهٔ پوره شوق، د زړهٔ د خوشحالۍ او عاجزۍ او انکسارۍ سره کوئ او که ترجمهٔ کنز الايمان يا د کنز العرفان اسانه ترجمه مو مخې ته وي نو بعضې آيتونه مبارک د معنې پهٔ لحاظ سره دومره عام فهم وي(يعني انسان پرې زر پوهيدے) چې اِنسان لږ ساعت اِيسار شي او غور اوکړي نو هغه به پرې پوهه شي چې " **زما کريم رَبّ ما ته څهٔ فرمائي**" دغه شان ځينې آيتونه مبارک دومره زړهٔ ته د راحت او سکون رسوونکو زيرو والا وي چې که غور پرې اوکړے شي نو د اللہ پاک د رحمت له وجې به د سترګو نه اوښکې رواني شي چې چرته زهٔ غافله او ناراسته اِنسان او چرته زما رحيم او کريم پروردګار، د تِلاوت کولو پهٔ وخت د ژړيدو کوشش کول پکار دي پهٔ حديثِ پاک کښې دي: بے شکه دا قرآن د حُزن سره نازل شوے دے، لهذا چې کله تاسو دا لولئ نو ژاړئ او که ژړيدے نهٔ شئ نو ژړيدونکے شکل جوړ کړئ- (ابنِ ماجه، 2/ 291، حديث: 1337)

## د غم د حالت پیدا کولو طریقه

د قرآنِ کریم د تِلاوت کولو په وخت په زړهٔ کښې د غم پیدا کولو طریقه دا ده چې اِنسان په قرآنِ کریم کښې موجود نصیحتونه، ویروونکې خبرې او لوظونه یاد کړي، بیا د الله پاک په حکمونو او د منع کړے شوو خبرو په باره کښې په خپلو بے خیالو باندې غور اوکړي نو یقیناً چې د هغه په زړهٔ کښې به غم پیدا شي او د سترګو نه به یې اوښکې رواني شي- او که نهٔ غم وي او نهٔ اوښکې بهیږي لکه څنګه چې د صفا زړونو والؤ زړونه ژړیږي نو بیا هغهٔ له په نهٔ ژړیدو او نهٔ غمژن کیدو ژړیدل پکار دي ځکه چې دا (یعني د زړهٔ سختي) د ټولو نه لوئې مصیبت دے- (احیاء العلوم، 1/368)

## چرته داسې هم کوئ

د الله پاک د کلام د تِلاوت په وخت د ظاهري او د باطِني آدابو په خیال ساتلو غور او فِکر کوئ چې د قرآنِ کریم د تِلاوت هم دا مقصود دے، په قرآنِ کریم کښې په څومره آیتونو مبارکو کښې د غم زپلو د پاره د راحتونو بیان دے په څومره آیتونو مبارکو کښې د بے آسرو د پاره آسره ده- لږ غور اوکړئ چې الله رَبُّ العٰلمین زما په ذات کښې خپل څومره نعمتونه ایښودي دي، رَبِّ کریم په دې دُنیا کښې زما د پاره څومره اسانۍ پیدا کړې دي که زهٔ خپل دا مختصر ژوند د هغهٔ د رضا مطابق تیر کړم نو زما د پاره به په قبر او حشر کښې داسې د عیش او عشرت ذریعه وي کوم چې به نهٔ یوې سترګې لیدلي وي او نهٔ به یو

غوږ اوریدلي وي- زما رَبّ کریم د قرآنِ کریم پهٔ شکل کښې زما د لار ښودنې د پاره څومره د عظمت او شان والا کتاب ما ته راعطا کړے دے- د دې برکتي کتاب پهٔ زیارت کولو لږ سوچ خو اوکړئ چې دا هُغه پاک کتاب دے چې د دې د الله پاک پهٔ کلام کیدو کښې د یوې ذرې برابر شک هم نشته، د دې پاک کلام مقام او مرتبه دومره اوچته ده چې دې مبارک کتاب له د لاس وروړلو د پاره طاهِر (یعنې پاک) کیدل ضروري دي، هر ګس دې مقدس کتاب له لاس نشي وروړلے بلکې حکم دے چې وړومبے اودس اوکړي او بیا پهٔ ظاهري توګه صفا سوتره شي او بیا پاک کلام له لاس وروړي-

اوس قرآنِ کریم پهٔ لاس کښې راواخلئ او لږ سوچ اوکړئ چې یقیناً دا هُغه پاک کلام دے د کوم هر یو ټکے چې زمونږ د خوږ او اخري نبي مکي مَدَني مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ژبه مبارکه باندې ادا شوے دے، زهٔ د خپل رَبّ شُکر څنګه ادا کړم چې هغهٔ ما ته د دې پاک کلام نهٔ یواځې د لوستلو اجازت عطا کړے دے بلکې پهٔ لوستلو، زیارت کولو، ښکلولو او لاس وروړلو باندې یې هم زما د پاره ډیر اجر او ثواب ساتلے دے زما د رَبّ پهٔ ما باندې څومره لوئي اِحسان دے- اَلحمدُ لِلّٰهِ عَلٰی اِحسانهِ وَکَرَمِهٖ

## پاک کلام له لاس وروړل څنګ دي؟

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مصحف (یعنې قرآن) شریف د تعظیم د پاره د سر او سترګو او سینې سره

لګول او ښکلول جائز او مستحب دي چې دا د هغه اَعظم شعائر (يعني د الله پاک د ښکلو نه د لوئي نخښو) نه دے او د شعائر تعظيم د تقوىٰ القلوب (يعني د زړونو د پرهيزګارئ) نه- (فتاوی رضویه، 22/356)

د مسلمانانو دويم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به روزانه سحر مصحف (يعني قرآنِ کريم) ښکلولو او فرمائيل به يې: دا زما د رَبّ وعده او د هغهٔ کتاب دے- د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به هم قرآنِ کريم ښکلولو او د مخ سره به يې لګولو- (در مختار، 9/634)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم مبارک انداز زمونږ د پاره رول ماډل (يعني بهترين مثالونه) دي- کاش چې مونږه هم روزانه کم از کم يو ځل قرآنِ کريم پهٔ لاس کښې راخلو، ښکلوو يې او د سترګو سره يې لګوو- د الله پاک پهٔ رحمت سره څهٔ پته لګي که د دې پهٔ برکت د قيامت پهٔ ورځ زمونږ د وجود هغه اندامونه کوم چې د قرآنِ کريم سره لګيدلي وي هغې ته د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کيږي، چې هغه اندامونه د دوزخ وور نهٔ سيزي نو نور اندامونه به څنګه سيزي؟

نارِ دوزخ میں وہ نہ جائے گا　　باغِ جنت خدا سے پائے گا
جو حقیقی ہے عاشقِ قرآں　　واہ کیا بات ماہِ قرآں کی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د قرآنِ پاک پټ رازونه او ځنبښې

يو بزرګ رَحمَةُاللهِعَلَيه فرمائي: زۀ يو سُورت شروع کووم او په هغې کښې د يوې داسې خبرې مشاهده کووم چې د سحره پورې ولاړ يم او هغه سُورت نۀ پوره کيږي- دغه شان چې به کله ځينو بزرګانو د قرآنِ کريم يو آيت ولوستلو او زړۀ به يې هغه طرف ته متوجه نۀ وو نو هغه به يې بيا لوستلو- (احياء العلوم، 375/1)

## د ظالِم د پاره غشے او د مظلوم د پاره مرهم

د کروړونو شافعيانو اِمام، حضرت محمد بن ادريس المَعروف اِمامِ شافعي رَحمَةُ اللهِعَلَيه فرمائي: د قرآنِ کريم هر يو آيت د ظالِم په زړۀ کښې غشے او د مظلوم د زړۀ د پاره مرهم دے- عرض اوکړے شو: هغه څنګه؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: الله پاک په 16 سيپاره، سورۀ مريم کښې فرمائي: ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا﴾ (پ16، سورۀ مريم:64) [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: " او ستا رَبّ هيروونکے نۀ دے-"

## د ماتو زړونو اُميد جوړيدونکے آيت مبارک

اے د قرآنِ کريم عاشقانو! د ديارلسمې سيپارې د سورۀ يوسف په آيت نمبر 86 کښې د الله پاک د خوږ نبي حضرت يعقوب عَلَيهِ السَّلام د کمال عاجزۍ او اِنکسارۍ ذِکر دے، الله پاک فرمائي: ﴿قَالَ إِنَّمَآ أَشْكُوا۟ بَثِّى وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: يعقوب ووئيل: زۀ خو د خپلې پريشانۍ او غم فرياد هُم الله ته کووم-

## مهرباني اوکړئ د دې آیت مبارک په باره کښې لږ اِیسار شئ، لږ غور اوکړئ!!!

کیدے شي چې تاسو په یوه سخته کښې راګیر یې، د څهٔ بیمارۍ ښکار یې، په څهٔ افت او مصیبت کښې راګیر یې، د څهٔ ازمیښت نه تیریږئ یا د قرض بوج د خلقو سره سترګو لګولو ته نهٔ یې پریښودي، په داسې څهٔ قِسمه حالت کښې هم لږ د دې آیت مبارک تِلاوت اوکړئ او لږ شان اِیسار شئ، لږه د دې ترجمه په اطمینان سره ولولئ او سوچ اوکړئ چې په دې مبارکو لفظونو کښې څومره خوند او مزه او په الله پاک د توکل او اِعتماد بیان دے- د دې آیت مبارک ترجمه په خیال کښې راولئ او په تنهایۍ کښې د الله پاک په دربار کښې په ژړا ژړا عرض اوکړئ:

"اے زما مولیٰ! زهٔ خو د خپلې پریشانۍ او غم فریاد هم تا ته کووم- اے زما مولیٰ! زهٔ په څهٔ حال کښې یم تهٔ د هر څهٔ نهٔ خبر یې-"

کیدے شي چې د حالاتو د تنګۍ او د نا قرارۍ حالت په وجه ستاسو د سترګو نه اوښکې رواني شي یقیناً چې دغه د قلبیدو ساعتونه دي، دغه وخت رحمتونه نازلیږي، دا غنیمت وګڼئ او د خپل زړهٔ مُرادونه جائزې دعاګانې د رَبُّ العِزت په دربار کښې پیش کړئ هٔغه کریم ذات زمونږ طرف ته هر وخت هر ساعت متوجه دے صرف مونږ له توجه کول پکار دي، بیا وګورئ چې څنګه ستاسو پریشانې ختمیږي: مولانا حسن رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي:

کیوں کرنہ میرے کام بنیں غیب سے حسنؔ
بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا

(ذوق نعت، ص18)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بې اَسرو، غم زپلو، غمژنو د پاره زیرے

الله پاک پۀ 20 سيپاره سورة النَمل آيت نمبر 62 کښې اِرشاد فرمائي:

﴿اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ”یا هٰغه بهتر دے څوک چې د مجبوره فریاد اورې چې کله یې یاد کړي او بدي لرې کوي-“

د الله پاک د دې فرمان عالیشان پۀ تفسیر کښې یو عارِف (یعنې د الله پاک پیژنګلو لرونکے بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه) فرمائي: دلته د مجبور او بې وسه نه مُراد هٰغه کَس دے کوم چې د الله پاک پۀ دربار کښې حاضر شي او دُعا اوکړي خو د ځان او د الله پاک ترمینځه د خپلې څۀ نیکۍ طرف ته نۀ ګوري د کومې پۀ وجه چې هغه د څۀ څيز (یعنې اِنعام) حقدار جوړیدے شي بلکې داسې عرض دې اوکړي: اے زما پروردګار! ما ته بغیر د څۀ بدلې نه هٰغه څيز راعطا کړې- (قوت القلوب، 586/2) صوفیائے کرام رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم فرمائي چې د زړۀ نا قرارې د دُعا د قبلیدو د پاره اکسیر (یعنې ډیر اثر لرونکې) ده-

# مهرباني اوکړئ د دې آيت مبارک په باره کښې لږ اِيسار شئ، لږ غور اوکړئ!!!

لږ غور اوکړئ چې الله پاک په دې آيت مبارک کښې خپلو ټولو بندګانو ته څنګه د خپل فضل او کرم اُميد ورکوي، هغه دعاګاني د ټولو اورې خو د مجبور او د بے آسرې دُعا په خصوصيت سره اورې او نۀ يواځې اورې يے بلکې د هغۀ دُعا قبلوي او د هغۀ پريشانه کوونکے هر يو څيز د هغۀ نه لرې کوي۔

په تنهايۍ کښې په شوق سره د قرآنِ کريم په زيارت کولو دا آيت مبارک يا د دې ترجمه ولولئ او بيا خپله يوه يوه پريشاني، غمونه، دردونه، خپل ودريدلي کارونه او د ځان او د خپلو عزيزانو بيمارۍ بلکې داسې مرضونه د کومو په باره کښې چې ډاکټرانو جواب درکړے وي هغه ټول په ذِهن کښې راولئ او دا آيت مبارک بيا بيا لولئ او د الله پاک په دربار کښې عرض اوکړئ:

اے زما مالکه! زۀ کمزورے يم، بے وسه، بے آسرې، غم زپلے، د دَر دَر ډغرو وهلے ستا په دربار کښې حاضر شوے يم ستا په دربار کښې هر مجرم ته پناه ميلاؤيږي زۀ ستا د نبي [صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] اُمتي، ستا بنده يم، ما ستا دربار ته خپله مجبوري راوړې ده ما د در در د ډغرو نه بچ کړې زما مولیٰ ستا نه علاوه زما څوک هم نشته۔ هم تۀ زما آسره يے۔ بيا وګورئ چې زړۀ ته مو څومره

سکون او راحت حاصليږي- مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښومره ښکلې خبره کړې ده:

اِس بے کسی میں دِل کو مرے ٹیک لگ گئی　　شہرہ سنا جو رحمت بے کس نواز کا

(ذوقِ نعت، ص 17)

## کله هم محرومه نۀ يم پاتې شوے

د الله پاک خوږ نبي حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک په دربار کښې د نيک ځوي د پاره دُعا اوکړه، په هُغه مبارکه دُعا کښې د ډيرې عاجزئ او اِنکسارۍ په اِظهار کولو او د الله پاک په رحمت باندې د ډير ناز په انداز کښې عرض کوي: ﴿وَلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآىِٕكَ رَبِّ شَقِيًّا۝﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او اے زما رَبه! ما چې تا نه دُعا کړې ده نو کله محرومه نۀ يم پاتې شوے- (پ16، سورۂ مریم:4)

## مهرباني اوکړئ د دې آيت مبارک په باره کښې لږ اِيسار شئ، لږ غور اوکړئ!!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک دعاګانې ضرور قبلوي خاص طور د نيکانو او د هغوئي نه هم زيات د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام، خو په دې مبارکو الفاظو باندې غور اوکړئ چې په الله پاک باندې د ښومره کامِل يقين (يعني پوره باور) او د توکل اِظهار دے، که نن مونږ هم په خپلو ازميښتونو، افتونو او مصيبتونو کښې د در در د ډغرو خوړلو او د مختلفو سفارشونو په ذريعه د خپلو

مسئلو د هوارولو پهٔ څائے د تهولو نه وړومبے د الله پاک پهٔ دربار کښې پهٔ پوره یقین سره زاري ژړا اوکړو او عرض اوکړو، څهٔ پته لګي چې لاسونه مو لا پهٔ هوا کښې لاندې نهٔ وي راغلي او زمونږه ضرورتونه او حاجتونه پوره کړے شي خو دې د پاره کامِل یقین شرط دے- که د نارینه اولاد ارمان وي نو د رَبُّ العِزت پهٔ دربار کښې دُعا اوکړئ او ډیر پهٔ عاجزۍ سره پهٔ ژړا کښې د حضرت زکریا عَلَیْہِ السَّلَام ادا کړے شوي مبارک الفاظ بیا بیا ووایئ کیدے شي چې ستاسو د پاره هم د کرم دروازه برسیره شي او د زړهٔ مُرادونه مو پوره شي- امیرِ اهلِسُنَّت د دعوتِ اِسلامي باني حضرت علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ عرض کوي:

ہاتھ اٹھتے ہی بَر آئے ہر مُدَّعا      وہ دعاؤں میں مولیٰ اثر چاہئے

(وسائلِ بخشش، ص 513)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!      صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## کله چې د ظالِم د ظُلم نه تنګ شی

خُدائے دې نهٔ کړي که چرې د ظالِم د ظلم زور برداشت کولو سره مو د برداشت کولو حوصله ختمه شي نو د حضرت نُوح نجي الله عَلَیْہِ السَّلَام ادا کړے شوي مبارک الفاظ کوم چې پهٔ دې آیت مبارک کښې دي دا یا د دې ترجمه ولولئ او خپل زړهٔ له اُمید ورکړئ- پهٔ 27 سیپاره، سورة القمر آیت نمبر 10 کښې دي:

﴿اَنِّیۡ مَغۡلُوۡبٌ فَانۡتَصِرۡ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زهٔ مغلوب يم نو تهٔ (زما) بدله واخلې۔

## مهرباني اوکړئ د دې آيت مبارک پهٔ باره کښې لږ اِيسار شئ، لږ غور اوکړئ!!!

د دې آيت مبارک ترجمه پهٔ ذِهن کښې ساتئ او د الله پاک پهٔ دربار کښې عرض اوکړئ: يا الله پاکه! زهٔ د ظالِم د ظُلم زور نه تنګ شوم، پهٔ ما کښې د هغهٔ د مقابلې طاقت نشته نو هم تهٔ زما هر څهٔ يې مولیٰ زهٔ مغلوب يم تهٔ زما بدله واخلې۔

زما مالک او مولیٰ! نفس او شيطان ډير سرکشه او ظالمان دي دوئ پهٔ ګناهونو کښې پهٔ اخته کولو ما د هلاکت ژورې کندې ته غورځول غواړي پهٔ ما کښې د دوئ سره د جګړې طاقت نشته، مولیٰ تهٔ زما بدله واخلې، ما له همت راکړې، ما له طاقت راکړې چې زهٔ د دې ظالمانو د پنجې نه ووځم او ستا پهٔ لار روان شم، ستا د خوږ اخري نبي مکي مَدَني مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو باندې روان شم، د نيکۍ دعوت ورکړم، د دعوتِ اِسلامي دِيني کارونه اوکړم، د ګناهونو نه بچ شم، ستا د پاک کور (يعني د جوماتونو) ابادولو د پاره ټولو ته د نمونځ دعوت ورکړم، د سحر د نمونځ د پاره راپاڅول هم اوکړم، مولیٰ نفس او شيطان غالب شول، زهٔ مغلوب شوم، اے زما مولیٰ! تهٔ زما بدله واخلې۔

## شيطان سپے دے

سيِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل کتاب مِنهاج العابدين کښې ليکلي دي: يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د شيطان د تښتولو هم دا طريقه ده چې د الله پاک پناه غواړې ځکه چې شيطان يو سپے دے کوم چې الله پاک په تاسو مسلط کړے دے که تاسو د دۀ سره په جګړه او د دۀ په تښتولو لګيا شوئ نو ستړي به شئ او دا سپے به ستاسو نه وکټي او تاسو به چيچي او زخمي کوي به مولهذا د دې سپي د مالِک يعنې د الله رَبُّ العِزت طرف ته رجوعِ کول بهتر دي د پاره د دې چې هغه دا ستاسو نه لرې کړي۔

(منهاج العابدين، ص 46)

نفس و شیطان ہو گئے غالب ان کے چنگل سے تُو چھڑا یارب

(وسائلِ بخشش، ص 79)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاک ته حواله

دا رښتيا دي چې ”د قِسمت غوټه د تدبير نوکان چرې هم نشي پرانستلے“ الله پاک چې څۀ زمونږ په قِسمت کښې ليکلي دي هغه به ضرور مونږ ته ميلاوېږي خو که مونږه د الله والؤ انداز او واقعات وګورو نو حيران به شو چې څنګه هغوئي خپلې معاملې الله پاک ته سپارلې وې او د هغوئي کارونه به کيدل حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د تفويض [يعني د خپلو کارونو الله

پاک ته د سپارلو] اعلیٰ مقام ته رسیدلے وو، د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د شهید کولو د پاره چې کله بد بخته نمرود د دُنیا د ټول نه لوئې وور بَل کړو او هغوئې یـې هغې ته وغورځولو نو وور ته د رسیدو نه مخکښې د فرښتو سردار حضرت جبرائیل امین عَلَیْهِ السَّلَام حاضر شو او عرض یـې اوکړو: که زما د مدد ضرورت وي نو وفرمایئ نو حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وفرمائیل: د مدد ضرورت دے خو تاسو ته نۀ خپل رَبّ ته دے حضرت جبرئیل عَلَیْهِ السَّلَام عرض اوکړو بیا د هغۀ پۀ دربار کښې عرض اوکړئ: حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې پۀ دې باندې کوم جواب اِرشاد وفرمائیلو هغه د سرو زرو پۀ اوبو د لیکلو قابل دے، حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام اِرشاد وفرمائیلو: زما د حال نه زما رَبّ خبر دے زما د عرض کولو حاجت نشته- (تفسیر کبیر، پ17، الانبیآء، تحت الآیة: 68، 8/158)

جانتا ہے میرا ربِ جلیل　　　آگ میں جاتا ہے اس کا خلیل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ کوم کار چې د خطرې ویره وي نو پۀ هغې کښې دا اِراده کول چې الله پاک دې د بهترې حفاظت اوکړي- دې ته تفویض وئیلے شي او دا د تصوف یوه خاص اِصطلاح ده، یقیناً چې د الله پاک پۀ دربار کښې دُعا کول د تقدیر خلاف نۀ دي خو مونږ خو د خپلو معاملو پۀ باره کښې پۀ سوچ کولو کولو د Over Thinking (یعني ژور سوچ) ښکار کیږو، د لور د پیدا کیدو نه چې خبر شو نو ځینې نادانه هُغه وخت د لور د پالنې، د داج او د وادۀ وغیره پۀ باره کښې تش سوچونه کوي او خفه کیږي او د لور پۀ پیدا

کیدو د افسوس خرګندونه کوي کومه چې د غیر مسلمو طریقه ده لور د الله پاک رحمت او لوئي نعمت دے په دي باندې د هغه شُکر ادا کول پکار دي- پته نۀ لګي چې داسې د امروزه ژوند څومره کارونه دي د کومو په باره کښې چې مونږ ډیر د مخکښې نه سوچونه شروع کوو او بیا ترینه هم بځپله نتیجه راوباسو او په غمونو او پریشانو کښې اخته کیږو- په داسې موقع باندې د الله پاک د ښکلي پاک کلام طرف ته توجه کوئ او د 24 سیپارې د سورة المُؤمِن آیت نمبر: 44 نه مدد اخلئ او ځان ته وایئ: (لکه څنګه چې اِرشاد دے:) ﴿وَاُفَوِّضُ اَمْرِیْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ۝۴۴﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زۀ خپل کارونه الله ته سپارم، بے شکه الله بندګان وِیني-

## مهرباني اوکړئ د دي آیت مبارک په باره کښې لږ اِیسار شئ، لږ غور اوکړئ!!!

د زړۀ د سکون او په زړۀ پورې انداز کښې په تنهایۍ کښې د دي آیت مبارک په ترجمه باندې غور اوکړئ او یو یو لفظ یې ادا کړئ او دا خوند محسوس کړئ د کوم چې په دي آیت مبارک کښې بیان دے، په دي کښې موجود الفاظ څومره د ډاډ ګیرني او حوصله اوچتوونکي دي- که مَعَاذَ الله! په کور کښې د اولاد په پیدائش باندې د هغوئي د پالنې د خرچو نۀ لرلو په شکل کښې نفس او شیطان وسوسې دراچوي نو خپل ځان ته ووایئ: زما رَب روزانه میږي ته خَس او هاتي ته مَن عطا کوي هغه به ما څنګه محرومه ساتي- عارضي

ازميښت دے او دا وخت به هم تير شي- د يو وهيل مهي [يعني کب] خوراک روزانه پۀ ټنونو دے خو زما رَبِّ کريم د سمندرونو پۀ ويښ کښې هم خپل هُغه مخلوق ته رزق عطا کوي، هغه به يـې ما ته هم را کړي بلکې پۀ دُنيا کښې پيدا کيدونکـے هر زنده سر [يعني ساه لرونکـي] ته چې څومره موده پۀ دُنيا کښې اوسيدل دي هُغه همره رزق يـې د هغوئي پۀ قِسمت کښې ليکلے دے او ورته به ميلاؤيږي- لهذا زۀ ولې د ماشومانو پۀ زيږيدو يا د لور پۀ پيدا کيدو د هغې د وادۀ يا د داج وغيره پۀ معاملو باندې فِکر اوکړم چا چې د مور پۀ خِيټه کښې هغوئي ته رزق ورکړے دے هم هغه به هغوئي ته دُنيا ته د راتللو نه پس هم رزق ورکوي- د يو گس نه پوښتنه اوکړے شوه: تۀ د کوم ځائے نه خوراک کوې؟ هغۀ د خپلې خُلې طرف ته اِشاره اوکړه او اوئې وئيل: چا چې دا جرنده جوړه کړې ده هغه د دې د وړۀ کولو د پاره غله هم راکوي- (المستطرف، 124/1)

ہماری بگڑی بنی اُن کے اِختیار میں ہے
سپرد اُنہیں کے ہیں سب کاروبار ہم بھی ہیں

## طمع د الله نه ساتئ

حضرت اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې تۀ خپله معامله الله پاک ته حواله کړې او د هغۀ نه سوال کوې چې هغه ستا د پاره هُغه څيز مقرر کړي پۀ کوم کښې چې ستا خير وي نو ستا به هم خير او بهتري نصيب کيږي- آيا

تۀ نۀ ګورې چې د الله پاک خوږ نبي حضرت موسیٰ کلیم الله عَلَیْہِ السَّلَام چې کله دا الفاظ ﴿وَ اُفَوِّضُ اَمْرِیْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ۝۴۴﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: " او زۀ خپل کارونه الله ته سپارم، بے شکه الله بندګان وِیني-" (پاره: 24، سورۂ مؤمِن: 44) ادا کړل نو د هغې نه فوراً پس پۀ بَل آیت مبارک کښې موجود دي چې الله پاک هغوئي د فرعون د بدو نه بچ کړو او پۀ دښمنانو يـې د هغوئي مدد اوکړو- (منهاج العابدين، ص 246 مفهوماً)

اِرادے جن کے پختہ ہوں نظر جن کی خدا پر ہو
تلاطُم خیز موجوں سے وہ گھبرایا نہیں کرتے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د امیرِ اہلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ فرمان

### د اختر خوشحالي او غريبانان

که ممکن وي نو د خپل جومات د اِمام، مؤذّن او د خادم ، غريب رشته دار او ګاونډي وغيره خاص طور د ضرورتمندو سيدانو صاحبانو داسې مالي مرسته اوکړئ چې دوئي او د دوئي بچي هم د اختر په خوشحالو کښې شريک شي.

صلوا على الحبيب
صلى الله على محمد


فيضانِ مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډئ کراچي
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net